## اېلبې کرکي دولتي ښوونځي

د سرلیک I ناحیې د کورنۍ د مداخلې پالیسي 2023-2024

د اېلبې کرکي دولتي ښوونځیو د سرلیک I اداره به د کورنۍ د مداخلې یا همکارۍ د مرستې تړون خپروي چې په هغې کې به والدینو/قانوني سرپرستانو ته په ناحیه کې د هغه لارو چارو په اړه معلومات ورکړل شوې وي د کومو په واسطه چې نوموړې اداره په ښوونځیو او ناحیه کې د کورنۍ په مداخله کې مرسته کوي. د کورنۍ د مداخلې د مرستې تړون به د والدینو/قانوني سرپرست غوښتنو ته په لنډ، اسان سند کې ځواب ورکوي چې د سرلیک I ګډون کوونکي ښوونځیو ته به د کورنۍ د مداخلې مرستې وړاندې کولو په برخه کې د سرلیک I ادارې د کار تشریح کوي. لاندې په تفصیلي توګه د هغه شیانو لیست ورکړل شوی کوم چې د کورنۍ د مداخلې د مرستې په تړون کې شامل دي.

1. د سرلیک I اداره به د سرلیک I د وېب سایټ او معلوماتي کتابچو له لارې والدینو/قانوني سرپرستانو ته د هغوی د دې حق په اړه خبر ورکوي چې د سرلیک I پروګرام د بیاکتنې او ښه والي په برخه کې کې ګډون وکړي، او د دې حقیقت څخه به یې خبروي چې د سرلیک I پروګرام پلان به د ناحیې د ګډ غوښتنلیک برخه جوړیږي.
2. د سرلیک I اداره به د سرلیک I ښوونځیو ته د هغوی په وېب سایټونو د پوست کولو له لارې کومک او تخنیکي مرسته وړاندې کوي. د ښوونځي په دفتر کې به هارډ کاپي کې بدیل فارمېټ شتون لري.
3. د اورنټېشن، دوامداره مسلکي پرمختګ او دوامداره ځایي مرستې له لارې به د سرلیک I اداره د سرلیک I ښوونځیو ته مرسته او تخنیکي کومک وړاندې کوي څو د کورنۍ د مداخلې لپاره ښه فعالیتونه چمتو او عملي کړي او په لوست، ریاضۍ، ساینس او د ښوونځي د مجموعي اجرا په برخه کې د زده کوونکي په تعلیمي بریا باندې تمرکز وکړي.
4. د سرلیک I اداره به د کورنۍ د قوي مداخلې لپاره په لاندې لارو چارو د ښوونځي او د والدینو/قانوني سرپرستانو استعداد جوړوي:
   - (a) الف. ښوونځیو ته به مواد او سرچینې ورکوي څو د سرلیک I د ښوونځیو د زده کوونکو د کورنیو سره مرسته وکړي چې د ایالت د معیاري ښوونځي په ارزونو پوه شي او له دې څخه خبر شي چې د خپل ماشوم/ماشومې د پرمختګ په اړه معلوماتو ته لاسرسی څنګه ترلاسه کړي.
   - (b) ب. د روان سرلیک I د کورنۍ د ارتباط د مسلکي پرمختګ په مرکو کې د ښه چلنددونو په اړه سرچینې او معلومات وړاندې کړي او په دې اړه چې څنګه به اړیکې جوړو او د والدینو/سرپرستانو سره به دوه اړخیزې خبرې اترې کوو، د هرکلي یو ښه چاپیریال به چمتو کوو او دا چې والدین/سرپرستان به څنګه تشویقوو چې د ښوونځي سرچینو ته لاسرسی ولري او په ښوونځي کې ګډون/مداخله زیاته کړي.
   - (c) ت. ښوونځیو ته به په دې اړه معلومات وړاندې کوي چې د ای پي اېس ترجمې د خدماتو د پروګرام څخه به څنګه خدماتو ته لاسرسی ترلاسه کوي څو د والدینو/سرپرستانو لپاره تر ممکن حده په مناسب توګه مواد په داسې ژبه کې وړاندې کړي چې هغوی پرې پوهیږي.
   - (d) ث. د کورنۍ د مداخلې د سرچینې ښوونکی/ښوونکي به وړاندې کوي څو مسلکي پرمختګ او سرچینې وړاندې کړي چې د ښوونځیو او والدینو/سرپرستانو سره مرسته وکړي چې په ښه توګه د کورنۍ د مداخلې فعالیتونه پلان او ترسره کړي. د سرلیک I ښوونځي د مرستې د سرچینې ښوونکي به د والدینو/قانوني سرپرست د مداخلې څارنه کوي چې دغه څارنه به په کاله کې دوه ځله د هغوی د موافقت د لیدنو په جریان کې ترسره کیږي.
5. د سرلیک I اداره به د ای پي اېس (APS) د نورو ادارو او ټولنیزو موسسو سره همکاري کوي چې د کورنۍ د مداخلې لپاره په زړه پورې پایلې ترلاسه کړي.
6. د سرلیک I ادارې د کورنۍ د مداخلې پروګرام به د والدینو/قانوني سرپرست سره په کال کې یو ځل مرکې کوي چې موخه به یې د ناحیې د کورنۍ د مداخلې د پالیسۍ د کتابچې او د ای پي اېس د سرلیک I ناحیې د کورنۍ د مداخلې د پالیسۍ بیاکتنه او/یا سمول وي.

   الف. د سرلیک I اداره به د ای پي اېس د حساب او راپور ورکولو د دفتر (OAR) سره په همکارۍ د والدینو/قانوني سرپرست د سروېګانو معلومات راټولوي او د هغې بیاکتنه به کوي څو په ناحیه کې د کورنۍ د مداخلې په برخه کې د ښه چلندونو تعین وکړي او دغه معلومات د سرلیک I د ښوونځیو سره شریک کړي. دغه معلومات به د اېلبې کرکي دولتي ښوونځي په وېب سایټ موجود وي.

**د نیو مېکسیکو ایالت د موافقت د تګلارې د بشپړې نسخې لپاره د [NMPED د موافقت تګلارې] ته مراجعه وکړئ.**

**د اداري رئیس:** د سرلیک I رئیس/د سرلیک I کورنۍ د مداخلې پروګرام

**حوالې:** ESSA

**جزوي حواله:** برخه 1116 (الف).

د پالیسی جوزي حواله: سرلیک I 2022-2023 د ای پي اېس ناحیې د کورنۍ پالیسي

د NSBA/NEPN درجه بندي: KB

## **بیاکتنه: می 2023**

***والدین د ماشومانو لومړي او بانفوذه ښوونکي وي.***